

وینه ښښونکي چینجي

وینه ښښونکي چینجي (هوک ورم) ډېر واړه واړه سور رنګه چینجي دي - د دې هګۍ هم د غټو متیازو سره راوځي، دا وینه ښښونکي چینجي د کولمو په شیترلي یا مخاط (د ننۍ برخې) پورې نښلي هغه څېروي او وینه زبېښي، که په خېټه کې د دې چینجو شمېر ډېر زیات شي په انسان کې د وینې د کموالي مرض (انیمیا) منځ ته راوړي.

د ناروغۍ خپرېدل:

د وینې ښښونکي چینجي ناروغي په هغو ملکونو کې زیاته وي چېرته چې هوا ګرمه او مرطوبه وي. دا چینجي د ناروغ په خېټه کې هګۍ اچوي چې د غټو متیازو سره راوځي. که چېرې غټې متیازې په خلاص ځای یا کروندو کې وشي د ځمکې د نیم او د لمر د ګرمۍ له امله د دې هګیو نه ژر تر ژره بچي راوځي چې دا بچي د "لاروا" په نامه یادېږي.
په لوڅو پښو ګرځېدل او یا په ځمکه باندې د لوڅې کولو سره دا نری «لاروا» د پښو یا لاسونو

د پوټکي له لارې په وینه کې داخلیږي ، له کوم ځای نه چې د "لاروا" په پوټکي کې ور داخل شي په هغه

ځای کې خارښت پیدا شي او د سور والي سره یوځای پړسوب هم پیدا کوي ، کله چې لاروا په وینه کې ور داخل شي سږو ته رسیږي ، د دې ځای نه د بلغم سره یو ځای خولې ته راځي او بیا د بلغم د تیرولو په وخت کې مرۍ ته داخلیږي او معدې ته رسیږي . د دې ځای نه کولمو ته رسیږي او د کولمو په مخاط پورې نښلي ، د لته د وینو په څکلو شروع کوي تر څو چې د هغې نه غټ چینجی جوړ شي .

د ناروغۍ نښې نښانې :

۱- : له څېرې په خیسته کې چینجي زیات وي ناروغ کمزوري محسوس کوي ، د پښتړې

ستومانه وي . زړه يې نه غواړي چې کار وکړي هغه ماشومان چې سبق لولي ـ سبق لوسته يې زړه ته نه کېږي .

وينه ښبښونکي چينجي څنګه بدن ته داخليږي .

PROPERTY OF ACKU

۲-: په خېټه کې يې داسې درد وي لکه څنګه چې د بدن په داخلي برخه کې يو شی غوڅ شي.

۳-: ځيني نارو غانو ته لوږه نه پيدا کيږي او ځينو ته د عام حالت نه زيا ته لوږه پيدا کيږي، دوي دودۍ ډېره خوري خو وجود ته يې هيڅ فايده نه رسوي.

۴-: په وجود کې د وينې کموالی پيدا کيږي او رنګ يې تک زيړ شي.

۵-: د زړه حرکت يې تيز شي.

۶-: ساه ژر ژر وباسي او د لنډې لارې وهلو څخه وروسته په پنډيو کې يې درد پيدا شي.

۷-: نوکان يې سپين شي او کله کله داسې هم وشي چې نوکان چيت شي.

ساتنه:

۱-: د لوڅو د ساتلو لاره داده چې په خلاص ځای کې غټې متيازې و نه شي.

۲-: د غټو متيازو ځای کناراب دې استعمال شي.

۳-: لوڅې پښې مه ګرځئ کله چې په پټي کې کار کوئ، بوټونه يا څپلی په پښو کړئ.

۴-: ماشومان دې په خاورو کې د لوبو کولو څخه

منع شي .

دارو درمل : دا چينجي په غټو متيازوکي په آسانه په نظر نه راځي ځکه د دوي په هکله هغه وخت درست معلومات حاصلولی شو چې د غټو متيازو معاينه وشي . د ماشومانو غټې متيازې په هسپتال يا کلينيک کې معاينه کړئ . که معاينه کول مشکل وُ او د وينه څښونکي چينجي نښې نښانې ښکاره کيدې لو د کمبيټرن دوا چې په دې کتاب کې يې ذکر شوی دی استعمال کړئ دا د وينه څښونکي چينجي د پاره ډيره مفيده ده .

نری چينجی



د غه نری سپين چينجی (پن ورم) په وړو اوغټانو کې پيدا کيږي . خو په عامه توګه په ماشومانو کې ډير پيدا کيږي .

د ناروغی خپريدل :

د نري چينجي ښځينه چينجی په نريو کولمو کې ژوند کوي . د شپې له خوا د هګۍ اچولو لپاره د ډکو متيازو له لارې بهرته وځي او هلته هګۍ اچوي .

د دغې سبب نه د ناستې په ځای باندې سخت خارښت پیداکېږي او ژر تر ژره سور والی پیدا کوي.

کله چې ناروغ په خپلو لاسونو سره د ناستې ځای (معقد) کروي د چینجي هګۍ د ګوتو او نوکانو په ذریعه نقل کېږي. د خارښت په ذریعه اکثراً هګۍ په بستره او پرتوګ پورې نښلي او بیا په کورکې هرې خواته خپرېږي. نو ځکه د خوړلو ځکلو شیزونو شیانو ته هم رسېږي - که چېرې په ناپاکو لاسونو د و ډۍ وخوړل شي، یا داچې د خارښت وروسته ماشوم لاسونه خولې ته یوسي نو دغه هګۍ د خولې له لارې معدې ته رسېږي او دهغه ځای نه نریو کولمو ته چې ورسېږي د هګیو څخه چینجي راوځي.

ښځینه چینجي تقریباً یولس زره ۱۱۰۰۰ هګۍ اچوي. د هګیو اچولو د پاره د ناستې دځای نه بهر راوځي.

هره شپه چې بهر راوځي د ۳۰۰۰ - نه تر ۴۰۰۰ پورې هګۍ اچوي او بیا د ننه ننوځي.

کله چې په څو ورځو کې ټولې هګۍ واچوي بېرته نریو کولمو ته د رومي.

داچینجي په غریبو طبقوکې زیات لیدل کېږي خو په بډایو او امیرانو خلکوکې هم لیدل کېدای شي.

نښې نښانې

١- د نري چينجيان په خاص ډول واړه ماشومان سخت په

عذابوي. خو د ۶-۱۶ کلنو ماشومانو کي زيات وي اوله د غو ماشومانو څخه په ټول کورکي خپريږي.

۳ -: لکه څنګه چې سنځينه چينجي د شپې له خوا د ناستي دځاى په شاو خواکي هګۍ اچوي، نوله دي امله هلته سخت خارښت پيداکيږي، ناروغ ناكراره شي او په زوره ځان ګروي. له دې نه يوښه آرام مومي ليكن د ناستي ځاى سور اوږي او هلته سوى پيداكيږي.

۴ -: څرنګه چې خارښت د شپې له خوا زيات وي ماشومان ناكراره شي او آرام خوب نشي كولاى.

۴ -: له دي كبله چې ماشوم دشپې خوب نشي کولای ماشوم ډير ځيلي كيږي اووزن يې كميږي.

۵ -: اكثره ماشومان د شپې له خوا په خوب كې غاښونه چيچي.

ساتنه:

۱ -: د صفايي خاص خيال ساتئ.

۲ -: د خپلو ماشومانو نوكان اوږده مه پريږدئ

۳ -: خوسا مشيان په لاس كې مه وهئ.

۴ -: د غټو متيازو د كولو څخه وروسته خپل لاسونه په صابون پاك ومينځئ.

۵ -: که ماشوم د ناستي ځای وکړوي سمدستي يې لاس او ونه باید په صابون پاک ومينځل شي.

۶ -: د ناستي په ځای کې تيل ولګوئ. په دې ډول هم خارښت له منځه ځي او هم د چينجي هګۍ له منځه ځي.

۷ -: سهار چې د خوبه راپاڅئ د تشو متيازو او غټو متيازو ځای په اوبو پريمينځئ - ځکه چې هګۍ په پوستکي پورې نښلي او په مينځلو سره ليرې کيږي.

۸ -: د ناروغ ماشوم پرتوګ او نيکر د نورو خيرنو جامو سره مه يو ځای کوئ بلکې هغه په جوشو اوبو کې واچوئ ترڅو چې په هغې باندې نښتي هګۍ له منځه ولاړې شي.

دارو درمل:

څرنګه چې نري چينجو د يو مرض سره ټول کور ناروغه کيږي، نو په کار ده چې د يوه ناروغ سره د ټول کور علاج وشي.

نري چينجي د سپين تار په شان دي لوڅکه په غټو متيازو کې ښکاري - د دې د علاج د پاره د کمبيټرن دوا ډيره ګټوره ده.

د هرسړي له پاره د خوراک اندازه په ۱۱ مخ کې ذکر شوی دی.

برسیره پردې یوه بله دوا د " اینټي پاړ" په نامه شته چې د نریو چینجو له منځه وړلو له پاره ګټوره ده او په ۱۰ منځ وربا ندې خبرې شوې دي.



د کدودانې چینجي

کدو دانې چینجي (ټیپ ورم) د ناروغه غواوو د غوښو خوړلو له لارې د انسان بدن ته داخلیږي. دا چینجي د پټۍ په شان شکل لري. د ۸ نه تر ۱۰ متره پورې اوږدوالی لري، او بدن یې د بندونو څخه جوړ شوېدی، چې یو د بل سره ارتباط لري. څرنګه چې دا ټوټې د کدو د ځړې په څیروي نو ځکه د کدو دانې په نامه یادیږي.

د دې چینجي ټوټې د ۱۰۰۰ نه تر ۲۰۰۰ پورې رسیږي د چینجي د غاړې په برخه کې دا ټوټې وړې وي د لکۍ خواته ورو ورو غټیږي - د لکۍ د خوا ټوټې جلا کیږي او د غټو متیازو سره بهر راوځي.
په دې ټوټوکې تقریباً ۱۰۰،۰۰۰ هګۍ شته دي.

دچاپ حق محفوظ دی.

دخیتي چینجي

لیکنه: ډاکتر ظفرالله کل
تصاویر: بي - ډي - صدیقي
مترجم: ډاکتر عبدالرحمن زماني

کال ۱۹۸۰ ———— ۳۰۰۰ ټوکه
کال ۱۹۸۲ ———— ۱۰،۰۰۰ 〃
کال ۱۹۸۵ ———— ۱۰،۰۰۰ 〃
کال ۱۹۸۹ ———— ۱۰،۰۰۰ 〃

PROPERTY OF ACKU

سرو (SERVE) پوست بکس ۴۷۷ پیښور.

د ناروغۍ خپریدل :

کله چې د کدو دانې یو ناروغ په وابنو یا کروندو کې غتې متیازې کوي ، د دې چینجي هګۍ په وابنو کې تو یېږي . څاروي دا هګۍ د وابنو سره خوري، د څاروو په خېټه کې د دې هګیو نه واړه چینجیان (لاروا) پیدا کېږي - دا "لاروا" دوینې د بهیر له لارې د څاروي غوښو ته رسېږي او هلته په غوښو کې یو وړو کی کلک کیست جوړوي .

اکثراً دا کیست د زامې اوورون په غوښو کې ځای نیسي . د غوائي او میښې په غوښو کې دا چینجي ډېر پیدا کېږي - د دې چینجي خطرناکه ډول د خوګ په غوښو کې پیدا کېږي .

کله چې انسان د ناروغه څاروي غوښه وخوري چې دا غوښه نیمه پخه (ښه پخه نه وي)، نو د دې چینجي « لاروا » د انسان د بدن کولمو ته رسېږي او هلته ترې د کدو دانې چینجي جوړ شي . دا چینجي د هغه غاښونو په واسطه چې د سر په ناحیه کې یې واقع دي په کولمو پورې نښلي .

د انسان د خوراک څخه دا چینجي ځان موړوي ، د دې چینجي یو خاصیت دا دی چې په هغه کې نر او ښځه جلا ندي ، بلکې په یوه چینجي کې د نر او ښځې دواړو خصوصیت موجود وي .

نښې نښانې:

۱-: په خېټه کې درد. ۲-: سرګرځېدل او کانګې کول. ۳-: دستونه. ۴-: نه وږي کېدل یا ډېر وږي کېدل. ۵-: په وزن کې کموالی.
۶-: د غټو متیازو سره د چینجي ټوټې خارجېدل.

احتیاط:

۱-: غوښه تل ښه پخوئ او بیا یې خورئ - کباب یا د غوښو غټې ټوټې چې په سکروټو اچول کېږي اکثراً د ننه اوم پاتې کېږي. او هغه دې دومره ښه پاخه کړی شي چې د ننه برخه یې هم پخه شي
۲-: په کروندو یا واښو کې غټې متیازې مه کوئ.



دکدوداني چنجي



۳-: کناراب جوړ کړئ او د هغه نه کار واخلئ.

۴-: د دې ناروغ زيات خطر هغه وخت وي چې دانسان د غټو متيازو سره دې "لاروا" بهر راوځي او د خولي له لارې بېرته خېټې ته ورسېږي، په دې وخت کې د غه "لاروا" دويني د جريان سره دماغ ته رسېږي او هلته خطر پيدا کوي.

نوځکه که چېرې داچينجي په غټو متيازو کې وکتل شي د هغه د علاج د پاره دې سمدستي اقدام وکړې شي.

دارو درمل:

که چېرته نژدې ډاکتر يا روغتون وي د هغه سره دې مشوره وکړې شي ځکه چې ډاکتر د عمر او وزن مطابق دوا ورکوي.

په بازار کې د کدوداني د چينجو د پاره څو د وله دوايانې شته دي چې په هغه کې يوه دوا «يومي سان» په نامه ياديږي، د دې دوا صرف يو خوراک ښه تاثير کوي.

دا دوا په غابښونو ژول کېږي. د دوا د خوړلو نه دوه ساعته مخکې او دوه ساعته وروسته بايد هيڅ شی ونه خوړل شي او نه وڅکل

شي ـ ددې مرض د دوا استعمال په لاندې ډول
ښودل کیږي ۰

خوراک

عمر	ګولۍ
د ۲ کالونه کم ـــــــ	یوه ګولۍ (۵۰۰ ملي ګرامه)
له ۲ نه تر ۸ کالو پورې ـــــــ	دوه ګولۍ (۵۰۰ 〃 〃)
له ۸ کالونه زیات ـــــــ	څلور ګولۍ (۵۰۰ 〃 〃)

یادونه

د خیټې د هر ډول چینجو د پاره روغتون ته تګ یا
ډاکټر سره مشوره ضروري ده ځکه چې د دې چینجوهګۍ
صرف د مایکروسکوپ په ذریعه لیدل کیدای شي ۰
د مایکرسکوپ په ذریعه د غټو متیازو د معاینه
کولو نه پس ډاکټر معلومولی شي چې په خیټه کې څه
ډول چینجي وجود لري ۰
یوائې هغه وخت په خپله دوا استعمالولی شئ
چې ډاکټر پیدا نه شي او یا دا چې روغتون
لیرې وي ۰

جماعت پرنټرز سرکلر روډ لاهور

B
6.516
ZAF
311
cp.1

د خېټې چينجي

زمونږ په ملک کې د خېټې د چينجو [illegible] دي ډېره عامه ده او خصوصاً په وړو ماشومانو باندې لګي - دا ناروغي ولې پيدا کېږي .؟.

د دې څه علامې دي؟.

مونږ د دې نه څه رنګه بچ کېدای شو؟ .

او د دې څه علاج دی؟ .

د دې ټولو سوالونو ځوابونه به تاسو ته د دې کتاب په لوستلو سره حاصل شي .

ARIC
....
....
....
....

PROPERTY OF ACKU

Published by

S E R V E

Box 477, Peshawar,

دخېټې چينجي

زمونږ په ملک کې دخېټې ناروغي ډېره زياته ده. په تېره بيا په ماشومانوکې، په کليو او وړو ښارونوکې چېرته چې خلک په هواره ميدانونو او يا کروندوکې تشې او ډکې متيازې کوي، هلته د داسې ناروغيو خطر زيات دی - د چينجو هګۍ اوبچې دلته او هلته د خاورو په واسطه خپرېږي او د ميوو اوترکاريو سره ګيډې ته ځي او يا دځکلو اوبو سره بدن ته داخلېږي - په عام طور د بارانونو په وخت کې دا چينجي ډېر خپرېږي.

د خېټې چينجي ډېر ډولونه لري اومونږ دهغو څخه د څلور ډولونو بيان په تفصيل سره کوو.

۱) داسکاريس چينجي (راوند ورم)

۲) وينه ښبونکی چينجی (هوک ورم)

۳) نری چينجی (پن ورم يا تريډ ورم)

۴) کدو دانه چينجی (تيپ ورم)


اسکاریس چینجي
(راونډ ورم)
بنځه
نر
بنځه ۲۰ نه تر ۳۵ سانتي میتره
نر ۱۵ نه تر ۲۰ سانتي میتره
وینه څښونکي چینجي
(هک ورم)
بنځه
نر
په طبیعي ډول
نري چینجي
(پن ورم)
بنځه
نر
په طبیعي ډول
۸ نه تر ۱۰ میتره
یا ډیر زیات
سر
(ټیپ ورم)
کدو دانه چینجي

د اسکاریس چینجي

دا چینجي په هغو ملکونوکې زیات لیدل کیږي، چېرته چې د صفايي خیال نه ساتل کیږي. اسکاریس چینجي په هر عمرکې پیداکیدای شي مګر تر نهه کلنۍ پورې زیات لیدل کیږي. په ماشومانوکې ددې ناروغۍ لویه وجه داده چې ماشومان په ځمکه باندې لوبې کوي، پښې یابلې ګرځي، ډېر ماشومان خاورې هم خوري، دخاورو سره داسکاریس دچینجو هګۍ خېټې ته ننوځي.

واړه ماشومان چې داډول چینجي ولري په خپله ددې مرض دخپریدو ډېره لویه ذریعه ګرځي-داواړه بچیان اکثره دکورپه غولي کې اویاپه خونې کې دننه غټې متیازې کوي- په دې غټو متیانوکې داسکاریس چینجو هګۍ پیداکیږي. ددې هګیو باندنۍ پوښ کلک وي نوځکه تر ډېره وخته پورې ژوندي پاتې کیدای شي- کله چې غټې متیازې وچې شي دهواسره یوځای شي اوبیا دخوړلو اوڅکلوشیانو کې لوېږي، بچان هم هغه لویځای نه بل ځای ته رسوي، په هګیوکې د ننښتلوخاصیت شته نوځکه کله چې ماشومان په خاوروکې لوبې

کوي داهګۍ دهغوي په لاسونو پورې نښلي او بيا دخوړلو ځکلو. او يا په خوله کې دلاس وهلو په ذريعه خېټې ته رسيږي. کله چې کولموته ورسيږي دهغه له هګيو نه بچي راوځي چې دغه بچي د"لاروا" په نامه ياديږي.

د"لاروا" بيا دکولمو نه وځي او دوينو په نالیوکې داخليږي. دوينو له لارې سږوته رسيږي د ټوخې سره د"لاروا" ستونې ته داخل شي، کله چې لاړې تېريږي دلاړو سره بيرته وړو کولموته رسيږي، هلته غټيږي او اوږده اوږده چينجي ځنې جوړيږي.

ښځينه (ماده) چينجي له ۲۲ نه ۳۵ سانتي متره (تقريباً ۳۰ سانتي متره يو فټ کيږي) پورې لويږي او تقريباً تردوو لکو پورې هګۍ اچولی شي. داهګۍ دناروغ دغټو متيازو سره يوځای بهر (خارج) ته راوځي.

علامې: ۱-: که چېرې دلسو[۱۰] نه ترشلو[۲۰] پورې چينجي په خېټه کې وي نو اکثراً دناروغ له پاره کوم خاص تکليف ندی، که چېرې ددې نه زيات دخېټې غټيده شروع کيږي.

اسکریس چینجي

۲ -: کله چي «لاروا» سږو ته ورسېږي ناروغ ته وچ ټوخی پیدا کېږي کله کله غونیا هم پیدا کیدای شي یا دا چي په بلغم کي وینه راځي.

۳ -: د ناروغ په خیټه کي دردوي خو دا نشي ویلی چي دا درد په کوم ځای کي دی.

۴ -: اکثراً کانګي کوي.

۵ -: ناروغ ورو ورو کمزوری کېږي ځکه چي دا چینجي د هغه له غذا نه خوراک کوي، ډېرو ماشومانو ته د سیوري ناروغتیا پیدا کېږي.

۶ -: دا اوږده اوږده چینجي د غټو متیازو سره بهر ته راوځي، که چیري ډېر زیات شي د کانګي او د پوزي له لاري هم راوځي، کله کله د ساکښلو نالی ته ننوځي او د ساکښلو لاره بندوي.

احتیاط:

۱ -: د دي مرض نه د بچ کید و لپاره صفایي او ستره کي ضروري ده.

۲ -: په خلاص ځای کي دي ناسته (غټي متیازي) ونه کړی شي. دخاک انداز ځای دي استعمال شي او ماشومان هم مه پرېږ دئ چي هرهر ځای غټي متیازي وکړي.

۳ -: میوې او سبزیجات دې له خوړلونه مخکې ښه پریمینځلی شي.

۴ -: د ډوډۍ خوړلونه دې مخکې خپل لاسونه ښه په صابون سره پریمینځئ،



۵ -: ماشومان پرینږدئ چې خاورې وخوري.

۶ -: نوکان پرې نږدئ چې غټ شي ترڅو چې په هغه کې خیره ټوله نشي.

دارو درمل؛

دا به ډیره ښه وي چې د ډاکترانو سره مشوره وشي ځکه چې ډاکتر د عمر او وزن له مخې د دوا خوړلو تجویز کوي.

په بازار کې یوه دوا «کمبېټرن»[1] ده چې د شربت او ګولیو په شکل کې پیدا کېږي.

1- COMBANTRIN 250 MG (PYRANTAL PAMOATE)

دا دوایي په اسکاریس، وینه ځکونکي چینجي او نریو چینجو یو شان ښه تاثیر لري.

د کمبېترن شربت یا ګولۍ لږې ګرانې دي. داسکاریس چینجو د له منځه وړلو لپاره یوه مشهوره دوا "اینټي پار" نومیږي. دا یو ډول شربت دی - د دوا په بوتل باندې د دوایي د استعمالولو اندازه لیکل شویده.

دا دوایي داسکاریس او نري چینجو د له مینځه وړلو لپاره ګټه وره ده.

۲ ANTEPAR (PIPERAZINE CITRATE SYRUP)

عمر	د کمبیترن دخوراک اندازه.
دیو کال نه تر ۵ کالو پورې	شربت د چای د یوې کاشوغې په اندازه لمړۍ ورځ
" " " " " " "	" " " " " " " دوهمه ورځ
د ۵ کالو نه تر ۱۲ کلونو پورې	۲ ګولۍ (یو ځای) لمړی ورځ
" " " " " " "	" " " دوهمه ورځ
له ۱۲ کلونو نه زیات (۴۱-۷۵ کیلوګرامه)	۳ ګولۍ (یو ځای) لمړی ورځ
" " " " " " " "	" " " دوهمه ورځ
بالغ (۷۵ کیلوګرامه نه زیات)	۴ ګولۍ (یو ځای) لمړی ورځ
" " " " " "	" " " دوهمه ورځ

د خېټې چیغې

د ماشومانو دښمن